


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: نور دې نه یادوم
شاعر: انعام الله ګوهر
کمپوز: پخپله شاعر
پښتی: نعمت الله خالد
د چاپ کال: ۲۰۱۳
چاپ شمېر: دویم چاپ/۱۰۰۰ ټوکه
خپرندویه ټولنه: پښتو ادبي غورځنګ، کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ددویم چاپ سریزه

## په همدې بهانه ....

په کار خو دا وه چې اوس مې د پخواني کتاب د دویم چاپ په ځای نوې شعري ټولګه له نوو شعرونو او خبرو سره درنو او خوږو مینه والو ته وړاندې کړې وه خو یو څو خبرو اړ کړم چې کتاب بیا چاپ کړم.

ما فکر کاوه چې له کتاب چاپ کولو وروسته به که خدای کول له نوي شعر او نوي خیال سره راڅرګند شم خو نه پوهېږم څه راباندې وشول ، دا دې د کتاب تر دویم چاپ پورې مې یوازې په شمار یو څو غزلې لیکلې دي.او له بلې خوا ما هیڅکله دا فکر نه ؤ کړی چې ګران لوستونکي به زما کتاب دومره خوښ کړي چې زه به یې دویم وار چاپ ته اړ شم.د ملګرو په دې مینه او تشویق به له خیره سره اوس د شعر د شاپېریو د بازار دوکاندار شم.

ډېر ملګري راته وایې ( نور دې نه یادوم ) خو نو د مذکر صیغه ده ضررو له کوم خواره ملګري دې خفه شوی یې.زه ورته دا وایم چې( نور) زموږ په سیمه کې یو اضافي توری دی له« نه یادوم »سره یوازې دتاکید مرسته کوي.نور یعني له دې وروسته دې نه یادوم.که

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دوی خبره هم شي نو موږ د هغه چا دپاره چې ژوند مو ورسره تړلی وي د (جانان ) کلیمه کاروو چې مذکر ښکاريږي خو جانان ،جانان وي.چې دا خبره ورته وکړم نو ملګري به وايي چې ښه دا يې جانان ! خو ولې يې نه یادوې . نو رښتیا خبره ده ځکه چې
جانان د چا کله هېريږي
د هغو هېر شي چې په ذات کم اصل وينه

همدا پورته خبره زما د يوه غزل په قافيه کې هم شوې ده چې
ګوهره ته به دا دروغ وايې تر کومه پورې
چې بس دا ځل دې یادومه نور دې نه یادوم
خو بیا هم خپل زړه صبرومه نور دې نه یادوم !
یوه بله مهمه خبره دا ده چې ما چې په لومړي ځل دا شعري ټولګه چاپ کوله نو د دې نوم تر ټاکلو وروسته مې له ډېرو فرهنګي يارانو سره مشوره وکړه چې دا نوم څنګه دی او ايا تر دې مخکې خو به د بل چا کتاب نه وي.ځيني ملګرو يې ډاډ راکړ چې نه ،ځيني نورو به يې ويل چې زموږ داسې يو نوم تر غوږ شوی دی خو په غالب ګمان چې هغه (نوره مې مه یادوه) دی.بس ما هم توکل کړ ځکه زما له دې نوم سره ډېري خاطرې تړلې دي.د کتاب له چاپ کولو وروسته د پښتو ادبي غورځنګ لس کلن جشن ته روان وم .په کندهار کې له ملګرو سره د يوې شپې دپاره پاتې شوم نو ما ويل راځه د ميرويس کتابخانې چکر ولګوه که چېرته دې نوی کتاب پیدا کړ. له

(c) ketabton.com: The Digital Library


ميرويس سره مې دا خبره ياده کړه چې کتاب مې چاپ شوی (نور دې نه يادوم).
هغه سمدستي راته وويل چې په دې نوم خو له ماسره يو کتاب شته چې د بل چا دی.ما ويل ته راواخله
له لږ ځنډ وروسته يې د ملګري جعفر هــــــــــاند شعري ټولګه (نوره دې نه يادوم ) راکړ.په ليدو يې خوشاله شوم او خفه هم شوم.
خو بيا مې هم زړه ته تسلي ورکړه چې څه هغه دې نوره نه يادوم دی.خو زما له دې نوم سره دومره خاطرې ډي چې که تر چاپ کولو مخکې هم ماته پته لګېدلی وای ما به د ملګري جعفر هاند عذر کړی ؤ او د دې نو د ايښولوو اجازه به مې ترې غوښتې وه.
بله خبره ! زما تکړه ليکوالانو ملګرو لکه ډاکټر ځلاند،فيصل فاران،ډاکټر امين تنها او داد محــــــــمدناوك او داسې يو څو نورو ملګرو زما په کتاب سريزې ليکلې وې.زما خپله دا اراده وه چې له دويم چاپ سره به يې چاپ کړم خو بيا يو څو ملګرو راته وويل چې د دويم چاپ سره سريزې ښې نه دي هغه به بيا ځانته چاپ کړې.چونکه زه په هر وخت کې د ملکرو په مشورو ژوند تېروم نو دا مې هم ومنله خو بيا هم له پاس يادو شويو ليکوالانو ملګرو نه ډېره مننه کوم چې زما کتاب يې نه صرف لوستی دی بلکه هنري او تنقيدي ليکنې يې هم پرې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور څه نه لیکم یو ځل بیا له ټولو مینه والو مننه کوم چې زموږ دزړه خبرې د زړه په سترګو ګوري او د خپل زړه خبرې یې بولي.دا مو هم دویم چاپ او تاسو ...............یو ځل بیا هم ستاسو د نیکو نظرونو او ګټورو مشورو په هیله

په ډېره مینه
انعام الله ګوهر
پکتیکا ـ افغانستان
۰۰۹۳-۷۷۸۷۸۷۴۳۳
۰۰۹۲- ۳۳۳۹۲۹۰۸۵۶

(c) ketabton.com: The Digital Library


مـا نــه غوښتل خو بس بې ارادې رایــــــــادېږي
یـــو وخت وه چې د ورځې او د شپې رایـــــــادېږي

چې هر ځل به مې ستا د هیریدلو کوشش وکړ
جانانه هومره ډېر رایادېدې، رایادېږي

منمه،ملامت یمه چې بیرته درته راغلم
خو څه وکړم چې نه مې هېرېدې، رایادېږي

ماښام چې میکدې نه راوتم، ننوتم
د ستا د بیلتانه ترخې شپې، رایادېږي

بېګا مې بیا په اوښکو باندې لوند خیشت وه ګریوان
بېګا مې بیا په زړه راورېدې، رایادېږي

دا مینه هم جانانه عجیبه ده ستا له لاسه
په مخ مې روڼې اوښکې بهېدې، رایادېږي

تا هسې ماته یو ځلې په شا و راکتلې
خو ماته بیا اشنا ډېرې مودې، رایادېږي

زړه به مې چې کله شو خفه مسافرۍ کې
تر هر چا به هغه ورځ ته ادې ! رایادیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

زما په زړه کې له مودو نه د یو چا تصویر دی
ماته خو ښکاري چې جانانه دغه ستا تصویر دی

د یوې جینۍ په الماریٔ کې تر بنګړیو لاندې
په سره رومال کې څو خطونه او زما تصویر دی

زما له اوښکو په دې ډکو ډکو سترګو کې پروت
د چا د سرو شونډو د مینې د (مسکا) تصویر دی

د مخ له جېبه یې راوباسم او ښکل یې کړمه
اخ شکر خدایه رالیږلی مې اشنا تصویر دی

دا په قبرونو چې دا شنې ،سپینې جنډې رپیږي
دا د دې ژوند کیسه او دا ددې دنیا تصویر دی

هغه سړي چا چې زما زړګی ټوټې ټوټې کړ
ساتلی اوس هم ما د هغه بې وفا تصویر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

یار مې ښکلې په زړه پورې ،راته ګوري
زړه مې ریږدې،زړه مې ښوري،راته ګوري

یو څو ښکلې مې د زړه اسمان کې مېشت دې
بس له ورایه لکه ستوري ،راته ګوري

زه خو دا له خدایه غواړم چې جانان مې
راته ګوري،راته ګوري،راته ګوري

چې جانان مې راکتل نه،ها وخت تېر شو
اوس خبري کوي نوري،راته ګوري

زه دولت ځکه نه غواړمه چې بیا به
ډېر مایوسه، ډېر کمزوري،راته ګوري

وې څه بل وخت به خوله درکړمه ګوهره
اوس ډېر خلک له هر لوري راته ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

دا رانه مه پوښته چې بدې او که ښې تیري شوې
له تانه پرته مې هم ورځې تېرېدې، تیرې شوې

له کوم سرې سره مې چې مینه په ساعت کې وشوه
لا مې هېر نه دی ګوره څومره زمانې تیرې شوې

لکه منشور نه چې د لمر رڼا اووه رنګه ووزي
له زړه مې داسې ستا د ښکلې مخ شغلې تیرې شوې

ستا د وصال او سپینې خولې وعدې لا نه شوې پوره
جانانه ،څومره ډېرې ورځې څومره شپې تیرې شوې

په خدای چې اوس مې هم زړه ودربیږي ،وډار شمه
په ما غریب ستا د فراق ترخې شپې تیرې شوې

اوس د مرګونو، ژړاګانو پروا نه لري څوک
په دغو خلکو د مرګ دومره حادثې تیرې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

نه مې د ورځې شته خوبونه نه بېګا له غمه
د ژوند په خوند باندې هيڅ پوی نه شومه ستا له غمه

د جانان غمه سرخوړليه لږ مهلت خو راکړه
چې ځان راخلاص کړمه د دې خوارې دنيا له غمه

خلک به هسې وايي دا چې ليونی شومه زه
زه خو ملګرو ليونی شوم په رښتيا له غمه

ستا له جفا نه پس په دې خبره ښه پوی شومه
په دې دنيا کې نه مړ کيږي څوک د چا له غمه

بېګا مې بيا کړه ياره ټوله شپه په وينښه تيره
بېګا مې خدای شته ياره ډېر ژړلي بيا له غمه

دا کرښې نه دي چې يې لولې ته په مخ د کاغذ
ګوهر خو ليکې دا هر څه ګوره اشنا، له غمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

سور اور دی او عذاب دی بې له یاره زندګي
تر څو به تېرومه داسې خواره زندګي

د هغه چا له لاسه یم په ژوند پوري ستومان
کوله چې به ما د چا دپاره زندګي

بیا به یې هم ستا په پښو کې کېږدمه جانانه
که راکړي راته خدای په څو څو واره زندګي

تر څو به د ذلت ژوند تېروو په غلامۍ کې
بس واخلې نوره ته رانه باداره،زندګي

داسي یو د خوف طوفان رالوتی په وطن کې
چې نه غواړي اوس دلته څوک له ډاره زندګي

ځان په مینه پوه کړه، مینه وپېژنه شېخه
تر کومه به کوې داسي بېکاره زندګي

دګوهر غم او خوښي دي ستاپه لاس کې یاره
وتلې د ګوهر ده له اختیاره زندګي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

يار چې مې کله په غاښو کې شونډې سرې ونيسي
لکه مړوند کې چې د سرو ګلو غونچې ونيسي

منم چې مينه مو جانانه په ساعت کې وشوه
خو هېروول به دي بيا ډېرې زمانې ونيسي

دار ته به هم زه په رضا او په خندا لاړ شمه
خو که څوک راشي ما په جرم د (هغې )ونيسي

شېخ هم په ښکلو باندې لاس اړوي، مينه کوي
بس چې څوک ورشي دی په لاس کې زر تسبې ونيسي

زما جانان چې چېرته اوسي دا وصيت مې واورئ
زه چې مړ کېږم زما سترګې دې دورې ونيسي

که دغه حال وه په دې ځای کې نو به وګورې ته
څو کاله پس به دا وطن ،ټول هديرې ونيسي

علاج يې ماته دی مالوم ګوهر به هله روغ شي
چې يار غېږ ورکړي او خپل زړه ته يې نزدې ونيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

د غفلت په خوب ويده دې لکه مړي
ځيني ځيني پښتانه دي لکه مړي

دا زمونږ د پاک وطن پاک شهيدان ټول
دا ژوندي دي، داسي نه دي لکه مړي

ځيني خلک په عزت کې څومره سپک دي
بس په وزن کې درانه دي لکه مړي

لږ د خپلو عاشقانو احوال واخله
په کوڅه کې دې پراته دي لکه مړي

له ګوهره چې ته لاړې نازولې
ارمانونه يې اوس مړه دي لکه مړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

خدای شته په اوښکو دې لمانځم جانانه هر ماسخوتن
راته یادیږې ستا خبرې بس اکثر ماسخوتن

پاس په سپوږمۍ کې راته ستا ښکلې څهره ښکارېږي
چې ویده کیږم ،په بالښت لګوم سر ،ماسخوتن

ډیر مې یادیږې کاشکې تللی یار په خوب ووینم
خدایه ورځ تېره کړې نن زر ،چې راشي زر ماسخوتن

بېګا مې ستا شایسته مخ اولید نو چیغه مې کړه
له کومې خوا راوخوت خلکو دغه لمر، ماسخوتن

ستا پاکه مینه لکه وینه په رګونو کې زما
زړه مې کوي ستا د نامې ذکر سحر،ماسخوتن

خلک ویده شي خو دی ژاړي تر سهاره پورې
دغه حالت بس سروکال وي د ګوهر، ماسخوتن

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

لکه غزل لکه نغمې خوږې خوږې خبرې
په زړه مې اورې ياره ستا پستې پستې خبرې

ښه مې په ياد دي لا تر اوسه مې هېر شوي نه دي
چې زه به غوږ وم تا به کړې وړې وړې خبرې

جينۍ ته خوب ورځي او سترګې يې وي سرې د ورځې
کړي تر ناوخته له خپل يار سره د شپې خبرې

که يارانه راسره نه کوې نو مه يې کوه
راسره کړه په شوارو‌زکې يو،دوه ،درې خبرې

هېر به مې نه شي او تر مرګه به ياديږي راته
جانانه ستا هغه يو څو ترخې ترخې خبرې

ملګري وايي چې په شعر کې يې نوښت نشته دی
ګوهر کوي هغه زړې کيسې ،زړې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

په زړه مې اوري ستا د میني هغه تېر وختونه
له ډېره وخته پس مې هم لا نه دې هېر وختونه

تا به هېر نه کړي دا کمبخت زړه مې زه پېژنمه
که ووځي هر څو یاره ،ډېر کلونه ، ډېر وختونه

زما په واړه لالهانده او په سترې ژوند کې
د خوشالۍ او د خندا دې ،څو په شمېر وختونه

اوس مې په دغه خوار حالت پوري خندا مه کوه
رقیبه ما هم ډېر تیر کړي ستا په څېر وختونه

ګوهر دي مړ شي یا دې ړوند شي په دې غبرګو سترګو
چې تېروي به په خندا ستا نه بغېر وختونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ټولې کيسې دې هېرومه ،نور دې نه يادوم
ما فيصله کړې صنمه، نور دې نه يادوم

په دې پوهېږم چې تر مرګه به دې هېر نه کړمه
خو بيا هم خپل زړه صبرومه ، نور دې نه يادوم

تا د رقيب سره جانانه يوځای نه شم ليدی
زه درنه بل وطن ته ځمه ، نور دې نه يادوم

نور به زه ياره ستا لپاره اوښکې نه تويوم
بس زندګې تېروم سمه ،نور دې نه يادوم

ته مې په دغه سوي حال باندې خندا کوې ،او
زه ټوله شپه ژاړم له غمه ،نور دې نه يادوم

ګوهره ته به دا دروغ وايې تر کومه پورې
چې بس دا ځل دې يادومه ،نور دې نه يادوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

لږ ساده و .لیونی نه و ملګرو
ګوهر دومره بد سړی نه و ملګرو

دا په زړه مې چې د کوم خنجر ګوزار دی
دا اشنا ښکاري ،پردی نه و ملګرو

د پښتو په شاعري کې به مې راج وي
که خیرت و او مرګی نه و ملګرو

دغه چم و، دا کوڅې وې، دا محفل و
تاسو نه وئ، ساتېری نه و ملګرو

دا( شاعر) چې اوس په چیغو چیغو ژاړي
دا په زړه دومره نری نه و ملګرو

دا غزل به د ګوهر درته یادګار وي
خامخا که چیري دی نه و ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

د دغه باغ او د بلبل مزه اوس نه ده پاتې
پاڼې يې زهر شوې د ګل مزه اوس نه ده پاتې

دستا په سترګو کې د مينې اظهار نه ښکاري اوس
ستا د خواره واره اوربل مزه اوس نه ده پاتې

پښتانه اوس دلته په ژوند باندې ستومانه دي ټول
د پېښور او د کابل مزه اوس نه ده پاتې

ياره چې ستا خوږو يادونو په کې ژوند تېراوه
ددې زړګي ددې ګوګل مزه اوس نه ده پاتې

چې يار دې لاړه بې وفا شو،د بل چا شودرنه
ګوهره ستا هم د غزل مزه اوس نه ده پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

چي دوه مين کړي سره ښکل،ماته راياده شې ته
بورا چي کښني په کوم ګل ،ماته راياده شې ته

ما چي دستا د هېرېدلو کوشش کړی هر ځل
تر ټولو زياته هغه ځل ،ماته راياده شې ته

په پرديسي کي راته هر څوک ستا په څېر ښکارېږي
لاس چي وهي څوک په اوربل ،ماته راياده شې ته

هغه چي تا به د کابل خوږې قيصې کولې
ذکر چي کړ ي څوک د کابل ،ماته راياده شې ته

دساه په هره يوه کړۍ مي دستا نام نوشته
د ژوندانه په هر منزل ،ماته راياده شې ته

د خيال او فکر تخيل مي د ستا لور ته يوسي
ګوهر چي ليکمه غزل ،ماته راياده شې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

بې وفا ! ستا پرېښولو ته خفه يم
زه د خپل ژوند تېرولو ته خفه يم

ګران کار نه دی ستا تر دره خو به درشم
خو واپس بيرته راتللو ته خفه يم

دا نو څنګه محبت دی چې کال تېر شو
د يوې خولګۍ غوښتلو ته خفه يم

زه اوس بيا نوی مين شوم ،رنګ مې زيړ دی
بيا سوچو او ژړېدلو ته خفه يم

زه په مينه کې هر وخت ځکه کړيږم
چې دخپل يار هېرولو ته خفه يم

بيا شپه راغله تنهايي شوله ګوهره
درد ،په شعر کې رانغښتلو ته خفه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ما ویل بیا به مینه نه کوم خو بیا مې وکړه
بس دومره پوه شومه جانانه چې خطا مې وکړه

خدایه هغه کس رانصیب کړې چې په زړه کې مې دی
بیګا مې وژړل ښه ډېر او دا دعامې وکړه

ته خو به خود هم نه منې چې زړه دې وړی له ما
غل خو پخپله باندې نه وایي چې غلا مې وکړه

تا هم خپل کار اوکړ جانانه او جفا دې وکړه
ما هم خپل فرض دی پوره کړی او وفامې وکړه

بیا خو به ته هم ټوله شپه ژاړې ،پښېمانه به یې
که دې ازار کړمه لالیه او ښېرا مې وکړه

د رقیب سر مې دی مات کړی د خپل یار په چم کې
ګوهره خوښ یمه چې دا لویه غزا مې وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

د جانان له ډېره غمه شاعري کړم
د هجران له ډېره غمه شاعري کړم

بيا د يار له کوڅې راغلم بې ديدنه
يم روان، له ډېره غمه شاعري کړم

چې دا دومره دروند غم يوسم ،کاڼی نه يم
زه انسان له ډېره غمه شاعري کړم

د بېلتون او درقيب تر منځ راګېر يم
يم حيران،له ډېره غمه شاعري کړم

چې زما د شاعري سبب دې وپوښت
اخ قربان ! له ډېره غمه شاعري کړم

فکر مه کړئ چې ګوهر بس سم وزګار دی
په ايمان، له ډېره غمه شاعري کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ورځ مې خرابه وي چې تاته مې کتلي نه وي
داسي شپې کمي دې چې ما په کې ژړلي نه وي

هغه سړی د بیلتانه په غمو څه خبر وي
چا چې په ټول ژوند کې غمونه هیڅ لیدلي نه وي

په دې دنیا کې هر عمل لکه په غره کې چیغه
بد به ونه ریبي چې هر چا بد کرلي نه وي

خدایه تر هغه مې ژوندی لرې تر څو پورې چې
ټول پښتانه مې په یوه ټغر لیدلي نه وي

د ستا په هجر ګلالۍ دومره ژړلي دې ما
دومره به تا چېرته په عمر کې خندلي نه وي

ګوهر له تاسره کړي دومره ډېره مینه یاره
ستا په خوب خاطر کې هم کله راغلي نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

مین چې نه وي زندګي باندې هيڅ نه پوهيږي
هغه په درد د تنهايي باندې هيڅ نه پوهيږي

زړه چې ورنه کړې دلداري باندې هيڅ نه پوهيږي
دا ښکلي ښکلي په ياري باندې هيڅ نه پوهيږي

کلی يې ټول په ما خبر کړ ځوانيمرګه يې کړې
وړه جينۍ په ريباري باندې هيڅ نه پوهيږي

څوک چې سرې شونډې، توري سترګې شاعري نه بولي
والله هغوئ په شاعري باندې هيڅ نه پوهيږي

د خلکو زړونه يې پريښي دي جومات کې ناست دی
زاهد په چل د بندګي باندې هيڅ نه پوهيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ستا د سترګو نشانه به شم یوه ورځ
د غمونو افسانه به شم یوه ورځ

که ستا حسن زما مینه وه همداسې
د دې خلکو تماشه به شم یوه ورځ

له دې غم او له ژړا سره زړګیه !
ته غم مه کړه ،اموخته به شم یوه ورځ

که دې هره ورځ دا هسې ځورولم
درنه لاړ به شم، خفه به شم یوه ورځ

د غزل د عروجونو په اسمان کې
لکه ستوری راښکاره به شم یوه ورځ

د هغې د لیونۍ مینې د لاسه
سودایي او دیوانه به شم یوه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

بيا راباندي راغلل ستا غمونه، دريابونه
ياره وارخطا مي شول خيالونه، دريابونه

ژوند دی تېروم يې بس په تشو اميدونو
ځکه راته ښکاري سرابونه، دريابونه

نن مي په يو جام ګوذاره نه کيږي بې سوره يم
نن خو ساقي راکړه دريابونه، دريابونه

سترګوپه درياب کي چي دي دوو کسو ته ګورم
ذهن ته مي راشي زر موجونه، دريابونه

تراوسه مي يوه خبر خوښيږي، رايادېږي
چا راته ويل چي کتابونه، دريابونه

ولي مي په چيغو ژړوې داسي ناترسه
په مخ مي ځي د اوښکو سېلابونه، دريابونه

شعر کي دي ګوهر د حکمت غواړمه ګوهره
ډک دي له ګوهرو دي شعرونه، دريابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

زړه کې پیدا شوې مې جذبه ده، عجیبه غوندې
خدایه دغه مینه پښتنه ده، عجیبه غوندې

داچې په خاورین وجودسپلونه داسمان کوي
خلکود ضعیف انسان رتبه ده، عجیبه غوندې

ځان او له جهان نه سړی دومره بې پرواکړي
څومره دادعشق ظالم نشه ده، عجیبه غوندې

سترې دې په ژوند کړې خوپه مرګ دې قدر زیات شي
دغه دود،دستور او فلسفه ده، عجیبه غوندې

یادونه دې دسیورې غوندې ګډ راسره درومي
ځارجانانه زما اوستا رشته ده، عجیبه غوندې

په ژبه د نغمو کې دزړه درد بیانول دې
ګوهره شاعري هم سلسله ده، عجیبه غوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

زړه مي رانه غواړي د اشنا په څېر يو څوک
نه مي کړ پيدا ياره د ستا په څېر يو څوک

هو دا منم ښکلي به ډېر وي دې جهان کي
زه غوارمه د هغه بې وفا په څېر يو څوک

ته که په خپل حسن باندي ناز کوې دا واوره
نه به کړې مين ښکليه زما په څېر يو څوک

کله چي را ياد شي ټول دردونه مي قرار شي
زړه کي مي دی مېشت دمسيحا په څېر يو څوک

ښکاري دغه خاوره يو ځل بيا انقلاب غواړي
خدايه کړې پيدا د احمدشاه په څېر يو څوک

وتراشي لفظونه ترې ګوهر د غزل جوړکړي
صفت لري دې ځای کي دکيميا په څېر يو څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ډېري ژړا مي سترګي سرې دي ،راشه
شپې مي کلونو نه اوږدې دي،راشه

ټوله شپه ويښ يمه د ستورو غوندې
د بېلتانه ترخې لمحې دي،راشه

لا خو دي زه په ناز پوی شوی نه يم
لا مي په زړه پاتي کيسې دي،راشه

په لوی جهان کي ځان يواځي بولم
د محفل ټولي شمعي مړې دي،راشه

جانانه بس دی نور د خدای په خاطر
راسره کړې دي وعدې دي، راشه

عمر مي ټول په انتظار کي تېر شو
زما ګوهر اخري شپې دي، راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ګل وې خو اغزی شوې،له نظره شوې
لاړلې پردی شوې،له نظره شوې

اخ زړه سپېلنی شوې،له نظره شوې
ښکلو ته لوګی شوې،له نظره شوې

څه درسره وکړم خواروزار ژونده
غمجن مازیګری شوې، له نظره شوې

خوشحال به وې، بې غمه وې، خندل به دې
اوس چې رازلمی شوې، له نظره شوې

خدای خبر ګوهره چې په چا پسې
لاړې لېونی شوې، له نظره شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

بيا دې له ځانه سره ولې دا غمونه راوړل
مين شوې څه له زړه او څه له دې دردونه راوړل

له مرګه پس به هم نکير منکر ته دا وايمه
ما له خپل ځان سره نيمګړي ارمانونه راوړل

موږخلک څه کوو چې څه رنګ تماشې يې وکړې
ستا له کوڅې خو موږ واپس داغلي زړونه راوړل

خدايه په هغوخلکو جنګ پورې کړې،ختم يې کړې
دا کوموخلکو چې زموږ چم ته جنګونه راوړل

دا د هغو کار دی چې څنګ کې يې خنجر نيولی
کنه پښتون خو لاس کې هر چاته ګلونه راوړل

ګوهر دسرو او سپينو وس نه لري ګرانه ياره
د تا لپاره يې څو مات او ګوډ شعرونه راوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

مينه ټينګه اراده غواړي ګوهره
مينه لويه حوصله غواړي ګوهره

په شيشه غر پرې کول اسانه نه دي
دا د عشق پاکه جذبه غواړي ګوهره

اوس مې زړه کې د جانان يادونه نشته
يادول خو حافظه غواړي ګوهره

زړه مې زړه غواړي له تانه، زړه دې راکړه
زړه مې نور څيزونه نه غواړي ګوهره

دلته خلک مينه کفر ګڼي چوپ شه
دلته خلک بهانه غواړي ګوهره

شاعري اسانه نه ده ،شاعري خو
د غمونو سرمايه غواړي ګوهره

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

کاشکې تللی وای له ځانه چېرته لري
له دې خلکو له جهانه چېرته لري

زما زړه کور د غمو او اندیښنو دی
لاړ شه بل ځای ته ارمانه چېرته لري

دلته خلک قدر نه کوي د مینې
ځه چې وتښتو جانانه چېرته لري

دا په کوم ځای کې شوم پاتې خبر نه یم
زه د عشق له کاروانه چېرته لري

بیا یې قدر ور معلوم شي ،بیا خفه وي
څوک چې لاړ شي له یو چانه چېرته لري

دا جنګونه او دا شر خدایه ته یوسې
بس یو خوا ته له افغانه چېرته لري

که مې څه مجبوري نه وای ګوهر وایي
زه به نه تلم له جانانه چېرته لري

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ګډ مې شوې په وینه کې خپل ځان کې راته ته ښکارې
خدایه په دوو سترګو د جانان کې راته ته ښکارې

سره غرمه کې ته یې . په زېړي مازدیګر تا وینم
ستوری شې، سپوږمۍ شې پاس اسمان کې راته ته ښکارې

کله چې یوازې شمه،سر په زنګون کېږدمه
خیال شې تصور شې په ګرېوان کې راته ته ښکارې

دا ځکه د دنیا له ستمونو فریاد نه کړم
خدایه ! په دې هر سخت امتحان کې راته ته ښکارې

څنګه اوس له تا نه بغیر بل چاته زړه ورکړمه
یه جانانه ! خدایږو په ایمان کې راته ته ښکارې

پرته ستا له مخه زه په سترګو بل څه نه وینم
ټولو ښایستونو د جهان کې راته ته ښکارې

زه ګوهر خو ستا له ښکلو سترګو الهام اخلم
ځکه په هر مخ د خپل دېوان کې راته ته ښکارې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

له خپل زړه به بې اوباسم ارمان رو، رو
هيروم به نازولى جانان رو، رو

ستا غمو په ما خوبونه حرام کړي
ټوله شپه مي اوښکي ځي په ګرېوان رو، رو

د ځواني بېړۍ مې ګورم چي ډوبيږي
د بيلتون په ميرات مړي طوفان رو، رو

ماته هغه وخت ته زياته راياديږي
چې ماښام وي او وريږي باران رو ،رو

تل به نه وي ستا غرور، زما ژړاګاني
خداى به تير کړي ستا د حسن دوران رو، رو

اعتبار سړى په چا وکړي حيران يم
ياران خيږي د لستوڼي ماران رو، رو

داسي ښکاري چې اخر به ليونى شم
زه پوهيږمه ګوهره په ځان رو، رو

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

جانان د عشق په دا م کې ګیر کړم، بیا یې پرېښولم
بند یې د زلفو په زنځیر کړم، بیا یې پرېښولم

هغه سړی مې ځنګه یار شو، څه بې وخته لاړو
زه یې ښه پوهه په تقدیر کړم، بیا یې پرېښولم

مخ یې له ورایه راښکاره کړ، خوله یې رانه کړه بیا
ظالم د خپل حسن فقیر کړم، بیا یې پرېښولم

ما به د شمعې غوندې درسته شپه په وینه خوړه
جانان عادت زه په شوګیر کړم، بیا یې پرېښولم

د بې وفا لالي قیصه به درته څه وکړمه
ګوهره بس زه یې شاعر کړم، بیا یې پرېښولم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ډېر ځل داسي شوي چي له ځانه یو تېر شوي
عشق کي مونږ له ګټي او تاوانه یو تېر شوي

شپږ کلیمې ووایو چي ستا له کوڅې راشو
هسي نه چي هلته له ایمانه یو تېر شوي

څو چي دلته خلک قدر پېژني د مینې
هاغه وخت به موږ له دې جهانه یو تېر شوي

یار مو له رقیب سره لیدلی دی په څنګ کې
څو واري له دې سخت امتحانه یو تېر شوي

اوس خو د حالاتو مجبوري ده کني هر وخت
موږ له خپلې خاوري ډېر په ګرانه یو تېر شوي

یار، رانه لاس واخیستو ګوهره دا سې وخت کې
اوس چي موږ د مینې له اسمانه یو تېر شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

زړه مې د خپل زړه له دېرې نه بهر مه اوباسه
جانانه ما د حافظې نه بهر مه اوباسه

د یو چا غم په مخه کړی یمه دلته راغلم
ساقي ما نن د میکدې نه بهر مه اوباسه

زه مې په خپل ځان باندې نه یمه، په تا ډاربږم
ما پسې سر له دروازې نه بهر مه اوباسه

دا څه خبرې مې بس پربږده چې په زړه پاتې وي
دا څه خبرې مې د خولې نه بهر مه اوباسه

نور مې په ځان پسې د خلکو تر مخ مه ژړوه
ما د پښتو له دایرې نه بهر مه اوباسه

ګوهره دلته مې هم زړه ډېر بې قراره دی، خو
ما مې دخپل یار له کوڅې نه بهر مه اوباسه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ستا په یاري کې راته هر امید ، ارمان ښکاريږي
په دغه رنګ خو دغه ژوند تېرول ګران ښکاريږي

زما په زړه کې محبت داسې ریښې وکړلې
چې اوس له ورایه راته هر ښکلی جانان ښکاريږي

ځوک چې په ښکلو اعتماد کوي او زړه ورکوي
ماته خو دغه سړی خدای شته ډېر نادان ښکاريږي

دا به زما ددغه خپل پښتون طبیعت وجه وي
رقیب که هر څومره شي نیک ، ماته شیطان ښکاريږي

له دې نه پورته نو دا مینه نوره څه ته وایې
تاته چې ګورمه جانانه ،ماته ځان ښکاريږي

دا د اسلام ټیکه دارانو ته له ځانه پرته
په دې دنیا کې خدای که هیڅوک مسلمان ښکاريږي

دغه زوی مړي په پردو غمو ځواني ضایع کړه
چې ورته ګورم ګوهر هر وخت پریشان ښکاريږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ماته پته ده چې ښه درته یادېږم
ته دروغ وایې له زړه درته یادېږم

راشه مخ قبلې ته واړوه جانانه
بیا قسم وکړه چې نه درته یادیږم؟

دواړه سترګې دي بیا ډکي دي له اوښکو
مور وهلې یې که زه درته یادېږم؟

اخ جانانه زړه مې تنګ شو پېښو ته راغی
څه دې وویلو څه؟ درته یادېږم؟

چې یو ځل د تورو خاورو بندیوان شم
نو ګوهر به بیا هله درته یادیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

جانانه ستا د خپلولو طریقه نه راځي
په تا د ځان قربانولو طریقه نه راځي

دې ګلابي مخ ته دې ځکه هسې ځیر ګورمه
د دې ګلاب د ښکلولو طریقه نه راځي
یم مسلمان یمه افغان پرته له خدایه، بل ته
بې خوده سر د ټیټېدلو طریقه نه راځي
ځان سره سل رنګه خبرې او سوچونه وکړم
خو د یار مخکې د ویلو طریقه نه راځي
ته یې ښکلا ته خوشحالي ته مې سکون یې د ژوند
پرته له تا د اوسېدلو طریقه نه راځي
خاوند ه ته خو مې د خوږ زړګي نه ښه خبر یې
د دعاګانو د غوښتلو طریقه نه راځي

په دې خوږه ساده پښتو کې به دې ستایم هر وخت
نور ما ګوهر ته د لیکلو طریقه نه راځي

د جلال امرخیل د غزل په لیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

نن مې په زړګي مسته هوا راځي
داسې راته ښکاري چې اشنا راځي

ستا یادونه ما کړي وراخطا داسې
سم لکه جبریل چې په حرا راځي

ستا د خندنو سترګو بلا واخلم
زه چې درته ګورمه ژړا راځي

زما د زړه د یاد له کوه طور څخه
یار له هرې خوا نه ستا ندا راځي

زما د لیونتوب پوښتنه مه کوه
ګوره دا الزام به بیا په تا راځي

یار راته وعده د سبا راکړله
خدایه اوس به کله دا سبا راځي

ښه وخت به ګوهره خیر دی هم راشي
تل خو په تیارو پسې رڼا راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

وواېم روح که درته زړه وواېم
یمه حیران چې درته څه وواېم

محفل دی تول له رقیبا نونه ډک
د زړه قیصه به په لېمه وواېم

کله دې سوچ کې دومره لرې لاړ شم
چې تاته ځان او ځان ته، ته وواېم

دا تورې زلفې که دې توره شپه ده
بیا به دې سپین مخ ته لمبه وواېم

که دې ژوندی دملالۍ تاریخ کړ
درته به کلکه پښتنه وواېم

ګوهره مه پوښته د زړه رازونه
ښه به وي دا زه چه څه نه وواېم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

لکه شمع سوځېدم به تر سهاره
ستا فراق وه، ژړېدم به تر سهاره

د هجران ترخې شپې وې، تنهایي وه
بې وسي وه، کړېدم به تر سهاره

کرۍ شپه به ستا په لارو په کوڅو کې
لیونی وم ، ګرځېدم به تر سهاره

د غماز او ستا تر منځ به مرکې وې
زه به ناست وم، ځورېدم به تر سهاره

چې به یار په غېږ کې ونیولم کله
بیا به مست وم، زنګېدم به تر سهاره

هر شپه چې تېریده به ستا په غم کې
اف توبه ده! مړ کېدم به تر سهاره

پاکه مینه وه ګوهره، په یوه خوله
عجیبه ده، شرمېدم به تر سهاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

سوزې مې په څه په سره انګار باندې جانانه
مه ږده شنه خالونه په رخسار باندې جانانه

زړه مې نور زخمي دی او وتلی دی له کاره
غمونه راکوه خو لږ په شمار باندې جانانه

کرې شپه مې په غېږ کې د شبنم په شانې پروت وې
مه پاڅېږه اوس په شنه سهار باندې جانانه

بيا به هم په جاره ستا د مينې اعلان وکړم
که شمه د منصور غوندې په دار باندې جانانه

تا چې له غماز سره لاس يو کړ زما مرګ ته
زړه مې درنه تور شو په دې کار باندې جانانه

غلی مه تېرېږه ګوره لاس کړه راته پورته
کله مې چې راشې په مزار باندې جانانه

بس دی کنه نور د سپينې خولې وعده پوره کړه
مړ دې کړ ګوهر په انتظار باندې جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

چې ستا له دغو سترګو غلچکو نه تښتېدم
ساده وم ،د تقدیر له فیصلو نه تښتېدم

خبره چې د یار او د اغیار سره یوه شوه
زه هر وختې له داسې حادثو نه تښتېدم

ستا بې وفايي مې زړه تور کړی له هر چانه
ګرم نه وم که له خپلو او پردو نه تښتیدم

ژوند کې په لومړي ځل ما جانان ته غصه کړې
لومړی ځل زه له خپلو حوصلو نه تښتیدم

خوب کې مې د نن سبا شیخانو حالات ولید
توبه مې له توبو شوه، له توبو نه تښتېدم

خلک یې پراته دي په دربار چې ډلې ډلې
ګوهره زه ډېر لري له هغو نه تښتیدم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

نور به زه له پاکه خدایه څه غواړم
ته چې زما نه شوې بل څه نه غواړم

عمر مې تول ستا په خوښه تېر کړلو
اوس خو هغه ومنه چې زه غواړم

ګوره د دنیا وړې دي نه یمه
مینه درنه غواړمه او زړه غواړم

نن بیا نا امیده شوم راستون کورته
ما خو وې د یار نه به نن خوله غواړم

څه ګوهره نور به درته څه وایم
بس خو دښمنان دې واړه مړه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

په ټول عمر کې ما دغه خطا کړې ده بس
چې مینه مې له تاسره رښتیا کړې ده بس

دا ولې مې تر اوسه نه هېرېږي هغه کس
هغه خو ماته یو ځلې خندا کړې ده بس

خدای خو دې زما په حال کړه یو واري جانانه
هر وخت مې ستا له پاره دا دعا کړې ده بس

زما د ژړا ګانو او غمونو په بدل کې
جانانه تا له ما سره جفا کړې ده بس

سرونه مو له تنه بېلوي او راته وایي
یې تاسو کافران، تاسو ګناه کړې ده بس

نه خوب وه، نه خندا وه نه خوښي وه نه مستي
په عشق کې ما ګوهره صرف ژړا کړې ده بس

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

خپلې ژوندګۍ نه په تنګ شوی يم
ياره له ځوانۍ نه په تنګ شوی يم

زه خو دې د خلکو د خندا کړمه
بس ستا له يارۍ نه په تنګ شوی يم

نور دې د ژړا کيسه کې نه يمه
نور دې له ټګۍ نه په تنګ شوی يم

زه خو يې له ښې شمرې وويستم
بس له دې جينۍ نه په تنګ شوی يم

کله به له دې عذاب نه خلاص شمه
ياره پرديسۍ نه په تنګ شوی يم

درد د زړه په خپلو وينو ليکمه
ګوهره شاعرۍ نه په تنګ شوی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ستاد سپینې خولې وعدې راته یادېږي
هغه تېرې ورځې شپې راته یادېږي

لکه ستورى تر سهاره پورې ویښ یم
ستا د نیمو شپو کیسې راته یادېږي

چې هر څو یې هېرومه ،هېرومه
هومره زیاته خداى منې ،راته یادېږي

ستا د هجر درد مې زړه کې لا موجود دى
لا تر اوسه ها شیبې راته یادېږي

لکه شمع تر سهاره پورې سوځم
تویومه اوښکې مړې، راته یادېږي

ها، ګوهر غریب به څنګه وي همزولو؟
نن خو ډېر بې اندازې راته یادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

لارو ته ځير ګورم د اشنا لار رانه ورکه ده
خدايه په دې خلکو کې دتا لار رانه ورکه ده

د وخت په ګردابونو کې يم هسې راګېر شوی
مخکې مخکې ځمه خو په شا لار رانه ورکه ده
حال مې د مجنون نه هم بدتر شو ستا په مينه کې
څيرې ګرېوان ګرځم د صحرا لار رانه ورکه ده
هر څوک چې مې يار که ،اغيار جوړ شو ترې
يا زه يم بې وفا يا د وفا لار رانه ورکه ده
دا په وطن څنګه د غمونو باد رالوتی
ټول خلک زړېږي د خندا لار رانه ورکه ده
خدايه دې زلمو ته بس قلم په لاس کې ورکړې
د جهل توره شپه ده د رڼا لار رانه ورکه ده

زه ګوهر افغان يمه د سر ټيټول نه راځي
نه ګورم دنيا ته د دنيا لار رانه ورکه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

د خپل ژوند له تقدير سره خبري کړم
بيا ستا له تصوير سره خبري کړم

خوب مي ليده ځوک رانه هر څه واخلي
اوس يې له تعبير سره خبري کړم

کله ستا د ميني په خيالونو کي
"پاچا" شم له "وزير" سره خبري کړم

اوس خو مي ډېر لوړ دی سندريز فکر
اوس خو له پامير سره خبري کړم

نه يرېږم اوس له زولنو ځيني
يم لېونی شوی له زنځير سره خبري کړم

بيا ګوهره ناست يمه غزل ليکم
بيا له خپل ضمير سره خبري کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

بيـــا مـــي پـــه زړه اوري نـــن يادونـــه د خپـــل كـــور
كيـــږي مـــي تـــر ســـترګو ديوالونـــه د خپـــل كـــور

هـــر ځـــاى چـــي واړه ماشـــومان وويـــنم پـــه لوبـــو
ذهـــن تـــه مـــي راشـــي زرګلونـــه دخپـــل كـــور

څـوك چـي مـي د كلـي لـه خوا راشي ورتـه خوښ يـم
ورشـــم تـــرې نـــه وپوښـــتم حالونـــه د خپـــل كـــور

اوښـــكو نـــه مـــي ډكـــي شـــوې لېمـــې لكـــه يتـــيم
ومـــي ليـــدل بيـــا نـــن تصـــويرونه دخپـــل كـــور

مـــه ويښـــوى دا مســـافر ځـــوان دې وي ويـــده
وينـــي بـــه شـــايد چېرتـــه خوبونـــه د خپـــل كـــور

ډوب شې په سوچو كي بيا له ځان سره موسكى شې
بيـــا دي رانـــژدې شـــول جـــوړ وختونـــه د خپـــل كـــور

كلـه چـي راسـتون شـم لـه روزګـار سـتړى سـتومان
ډېـــر وكـــړم ګـــوهره ارمانونـــه د خپـــل كـــور

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ځه په بې وفا باندې اوښتې يم
خلکه په بلا باندې اوښتې يم

نه مې خپلوي، نه مې پرېږدې بل ته
داسې په يو چا باندې اوښتې يم

نن مې اندازه د خوشۍ نشته هيڅ
نن په ورک اشنا باندې اوښتې يم

وار کوه د کړس خندا دې ځار شمه
نن خو په ژړا باندې اوښتې يم

هره يوه ادا يې جوړوي غزل
د حسن په پاچا باندې اوښتې يم

نه ګوهره اوس يې پرېښودی نه شم
اوس په دې ګناه باندې اوښتې يم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

نن مې چې جانان راپورې وخندل
خدایګو ټول جهان راپورې وخندل

مینې دې له عقل نه وزګار کړمه
ځکه هر انسان راپورې وخندل

کله چې مې اوښکو باندې لوند خیشت شو
خپل څیرې ګرېوان راپورې وخندل

دومره بیمار زړه درځیني تلی یم
یاره چې درمان راپورې وخندل

پوی شومه چې څومره ارمانجن یمه
کله چې ارمان راپورې وخندل

زه چې په ژړا شوم، دروغ نه وایم
یار مې په ایمان راپورې وخندل

څومره لیونی شوم ګوهر تا پسې
دا دې اوس خپل ځان راپورې وخندل

(c) ketabton.com: The Digital Library


# تنهايي

پرون سهار مې ځان سره وعده کړې وه
چې زه به دې بیا نه یادوم
ته چې ما نه یادوې
زه به هم تا نه یادوم
نوره خوشحاله زندګي تېروم
نور خپل درسونه وایم
ها بې وفا نه یادوم
ستا تصویرونه مې وسوزل ټول
د محبت هغه خطونه مې وسوزل ټول
ستا نښاني مې ټولې ماتې کړلې
ها په مریو جوړې شوې
هغه اینې مې ټولې ماتې کړلې
ماویل زه به تا نه یادوم
بیا ترمابښامه د ملګرو سره بوخت وم
ته راته نه یادېدې
خو
کله چې تیاره شوه
شپې خپلې کمځۍ خلاصې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټول انسانان ویده شول
په خپلو ځالو کې مارغان ویده شول
زما د زړه دنیا کې
تنهايي شور شروع کړ
او د نورو ورځو نه
زیاته رایاده شولې
په توره شپه کې راته ته ښکارېدې
په هر یو ستوري کې مې ته لیدلې
بله دېوه کې راته ته ښکارېدې
سترګې مې ډکې شوې له اوښکو ګرانې
او د کاروان هغه یو شعر را یاد شو
ورته ګورم په کتو یې نه مړېږم
تنهايي مې د جانان جامې اغوستې

---

پېښور، د شپې درې بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

خيال و،تصور و، وسوسه وه او که ته وې؟
هيڅ نه و،د اوبو په سر څپه وه او که ته وې ؟

ستورو کې،په لمر کې،په سپوږمۍ کې مې ليدلې
حيران وم چې دا ورځ وه او که شپه وه او که ته وې !

په هر غم،هره خوښۍ او هره لار به راسره و
جانانه دا زما خپله سايه وه او که ته وې !؟

ستا نه وروسته ولي دغه ژوند راباندي بوج دی
د ژوند د تېرولو بهانه وه او که ته وې !

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

خپل ځان ته له ناکامه ځورېدم او ژړېدم
په سره اور د فراق کې سوځېدم او ژړېدم

مینې دې جنون ته رسولی وم جانانه
له ځان سره به هر وخت غرېدم او ژړېدم

تا چې به په تلو تلو کې په شا شا راکتلو
پرون په هغو لارو تېرېدم او ژړېدم

کله چې به تاته مخامخ شومه لالیه
له ډېرې خوشحالۍ به خندېدم او ژړېدم

یاران چې به مې ولیدل په څنګ کې د اغیار
زه به له غیرته شرمېدم او ژړېدم

ما چېرته په عشق کې خندا ونه کړه ګوهره
هر وخت به له غمه کړېدم او ژړېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

په هر مين به خامخا دا امتحان تېرېږي
چې محبت کې به له ګټې او تاوان تېرېږي

ته ښه بې غمه په پاسته پالنګ خوبونه کوه
په ما غريب دلته اوږدې شپې د هجران تېرېږي

ياره زموږ په خلکو څه عجب حالات راغلي
ځيني له سر تېرېږي،ځيني له ايمان تېرېږی

چا چې زموږ پښتون غرور ته سپک نظر کړی دی
هغوئ په هر دور مختور له دې جهان تېرېږي

ستا له جفا نه پس په دې خبره پوه شومه زه
چې په دنيا کې هم قيامت په يو انسان تېرېږي

په دې ښه پوی شه چې دا ښکلي وفا نه پېژني
ځکه مرګ غواړي خو ګوهر اوس له جانان تېرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

تا په ټول ژوند راته د یار په سترګه ونه کتل
ما درته بیا هم د اغیار په سترګه ونه کتل

له کومه وخته چې مې ستا میني ته ملا تړلې
بیا مي بل کار ته هیڅ د کار په سترګه نه وکتل

چا چې تېرى کړى زموږ په پاکه خاوره باندې
ما ورته چېري د وقار په سترګه ونه کتل

پښتنو ځاى ورکړ دښمن ته،خو چې ټک یې ورکړ
دوئ ورته بیا هم د ښامار په سترګه ونه کتل

احساس څوک نه لري ګوهر چې چېرته ژوند تېروي
ګوهر هم دې ښار ته،د ښار په سترګه ونه کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

بس چې په تا مې باور نه شو پاتې
نور په هیچا مې باور نه شو پاتې

ما ازمایلې دي په سخته کې ټول
په هیڅ اشنا مې باور نه شو پاتې

مینه،اخلاص په کې څوک نه پېژني
په دې دنیا مې باور نه شو پاتې

ستا په خندا کې هم دهوکه پټه ده
ستا په ژړا مې باور نه شو پاتې

ټولې قیصې دي چې دروغ کړې دي
ستا په رښتیا مې باور نه شو پاتې

تا چې د ژوند لارې جدا کړې له ما
مرمه، په سا مې باور نه شو پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

نور دي له چمه کډه وړمه، ځمه
تاته وروستی سلام کومه، ځمه

هره خبر چي دا غيار په خوله کړې
زړه می غورځيږي له دې غمه، ځمه

تا چي د خلکو مخ کي ورټلم
درته په ژوند بيا نه راځمه، ځمه

اوس مې د زړه کورګی په تا اباد دی
اوس داسي مه وايه چي ځمه، ځمه

وطنه، څه وکړمه ځار دي شمه
د څو کسانو له ستمه، ځمه

ګوهره زړه مي له دنيا نه تور دی
نور دي په خدای باندي سپارمه، ځمه

يادونه: خدای خبر چېري مي دا د مطلعې نيم بيته: تاته وروستی سلام کومه ځمه: تر سترګو شوې وه ،خو هره ورځ به مي خوله راتله،هم هغه وه چي غزل مي کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

خوب ،ارام،سکون دې نه وای خوچې ته وای
لوږه تنده بس چې څه وای خو چې ته وای

چې ته غوږ وای ما په مینه درته کړلی
څه کیسې چې مي په زړه وای خو چې ته وای

رونه شپه وای د ستا لاس وای زما لاس کې
او یو بل ته په کاته وای خو چې ته وای

دا د شپو ورځو له جاله وای وتلي
بس ټول عمر په مزله وای خو چې ته وای

ها ګوهر هم اخر لاړو چې ویل بې
څه به ښه وای څه به ښه وای خو چې ته وای

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

پخلا به شي،زما به شي جانان که خدای کول
پوره به مي شي يو ورځ دا ارمان ،که خدای کول

ګوره چي ډېر زر به د مظلوم لاسونه رسي
ددغو ظالمانو تر ګرېوان ،که خدای کول

دا چي مو په حال باندي خندېږي، خوشحالېږي
په دوئ به هم راځي دا امتحان، که خدای کول

دومره دي په حسن غرور مه کړه نازولې !
تېر به دي شي ډېر زر دا دوران، که خدای کول

زړه ته درنزدې کړه ګوهر،ښکل يې کړه په مينه
ټول عمر به يې ياد وي دا احسان، که خدای کول

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

د یو چا په انتظار ،تر ډېره وخته
یم تر اوسه ناقرار،تر ډېره وخته

په اوږدو او په ترخو شپو دهجران کي
پاتي شوی یم بیدار تر ډېره وخته

هسي یو ځل تا په شا وه،راکتلي
ما دي وڅارله لار،تر ډېره وخته

اې واعظه لږ ددې وضاحت وکړه
ښکلي نه کوي اقرار تر ډېره وخته

ګرانې ستا هغه ترخې ترخې خبري
دا به ساتمه یادګار تر ،ډېره وخته

ډېر پخوا مي وه د توري خرپ ورکړی
بیا مي ونه لید اغیار،تر ډېره وخته

چي مي یو ځل ستا دمیني شراب وڅکل
زه ګوهر ومه خمار، تر ډېره وخته

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

چېرته سره لبان او سپین رخسار او چېرته زه
وخت کړو سره لري، چېرته یار او چېرته زه

یاره ! مه پوښته د ژوند احوال مي مه پوښته
چېرته ستا په مینه کي قرار او چېرته زه

ته که امر وکړې له خپل سرنه هم تېر یمه
چېرته ستا له امر نه انکار او چېرته زه

اوس به کوم دلیل شمه غلیم سره پخلا
توبه مي ده خاونده دغه کار او چېرته زه

نن مي د ګوهر تپوس ترې اوکړلو، ویل یې
چېرته بیا اوس هغه غریب خوار او چېرته زه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

دا ورځ خو د مینې سفر نه کیږي
تا سره خو ګرانه، خبر نه کیږي

ستا د هېرېدو وعده مې یاده ده
صبر کنه ،دومره خو ژر نه کیږي

مینه سر تېرې غواړي ساده یاره
دا قیمار په بل یو هنر نه کیږي

یو د ستا فراق ته تم کېدی نه شم
نور مې له هیڅ شي نه خطر نه کیږي

هر څومره که ژاړمه په تا پسې
ستا په سخت زړه ولې اثر نه کیږي

شېخه ! اوس د مینې دام کې ګیر یمه
ته به رښتیا وایې ،مګر نه کیږي

تا پسې له هره کاره وواته
دومره دې هم ترس په ګوهر نه کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

یو زمری بند په زنځیر کې راته ښکاري
ژوند ددې خوب په تعبیر کې راته ښکاري

ستا تصویر د زړه د پاسه ګرځومه
خپل تقدیر په دې تصویر کې راته ښکاري

ستا د وصل شپه زما د قدر شپه ده
هر امید په دې شوګیر کې راته ښکاري

بد انجام د دې وطن د حاکمانو
د شهید د مور په ویر کې راته ښکاري

دا ګوهر څه اخوا دیخوا سړی نه دی
لوی کمال په دې فقیر کې راته ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

په لپو لپو اوښکې توېوي ،ژاړي په چیغو
هغه چې مین زړه ازاروي، ژاړي په چیغو

جانان زما تر مخ زما تصویر ټوکړې ټوکړې کړ
اوس هغه پرې تصویر بیا جوړوي، ژاړي په چیغو

هغه چې زه یې هر وخت په سرو سترګو ژړولم
زما نه پس زما نوم یادوي ،ژاړي په چیغو

زما د مسافر زړګي ازار دې درپسې شي
چې مور دې په ملایانو ګرځوي ،ژاړي په چیغو

لږ وپوښتئ پاچا نه چې د دې ذمه وار څوک دې؟
وړوکی یتیم مخ او سر وهي، ژاړي په چیغو

چې ټول خلک ویده شي نو څه چل په ګوهر کیږي
فریاد کړي، په سر خاوري بادوي، ژاړي په چیغو

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

چې هر څو دې هېروم، نه مې هېرېږې
درته وبه خورم قسم نه مې هېرېږې

ملامت به يم چې بيرته درته راغلم
خو زه څه وکړم صنم، نه مې هېرېږې

ستا په عشق کې يم دې حد ته رسېدلی
که هر څو راکوې غم، نه مې هېرېږې

اوس خو څه کوې چې نوم دې په جار اخلم
که مې سر پرې کا څوک هم، نه مې هېرېږې

ځکه خوښ يم د رقيب مخ کې يار ووې
ته يې ماته محترم، نه مې هېرېږې

عجيبه ده دا نو څه مانا چې وايې
اې ګوهره نه درځم، نه مې هېرېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

چې محبت کې لیونی شي سړی
په دغه وخت کې بیا سړی شي سړی

د مین هر څه وي د بل په لاس کې
د معشوقې د لاس بنګړی شي سړی

ځان سره سل رنګه سوچونه وکړي
خو د یار مخکې بیا ګونګی شي سړی

ماته د میني زور ډېر ښه معلوم دی
لمبه لمبه شي ،سپېلنی شي سړی

کله د یو پردي سړي لپاره
له خپلو لري شي ،پردی شي سړی

خدای د یار غېږ کې څه حکمت ایښی دی
که وي سپین ږیری را زلمی شي سړی

چې دعشق ټولو مرحلو نه تېر شي
هله ګوهر شي او غمی شي سړی
د رحمت الله درد د غزل په لیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

زما په حال چې اوس خندا نه کوي ،څه به کوي
بې وفا یار چې مې اوس دا نه کوي .څه به کوي؟

دده د لاسه خو ما ټولې رشتې پرېښولې
هغه ظالم چې اوس وفا نه کوې، څه به کوي؟

د پله په څبر چې دې په نیمه لار کې پرېښولم
مسافر زړه چې مې ښیرا نه کوي ،څه به کوي

زما قاتل خو ددې وخت په انتظار کې ناست وو
زما په سر چې اوس سودا نه کوي، څه به کوي

یار یې د دده په مخ کې بل ته ګوري بل ته خاندي
ګوهر غریب چې اوس ژړا نه کوي،څه به کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ازاد نظم...............جرم

د پره موده وشوله
چې له خپل ځانه خفه شوی یمه
بس له جانانه خفه شوی یمه
هر یو نفر راته پردی ښکاریږي
له درست جهانه خفه شوی یمه
ژوند مې د هغه مسافر غوندې دی
چې خپل وطن نه لري ،کور نه لري
د خپل زخمي زړګي ټکور نه لري
ټوله شپه داسي په ژړا تېره کړم
لکه یتیم چې پلار نه لري مور نه لري
ژوند مې تېرېږي داسې
لکه دا ژوند چې وي راکړی چا قرضه کې ماته
او زه لګیا یم هغه پور اوباسم
نن په دې لټه کې شوم
چې زما جرم څه دی او په څه خفه یم
په هر یو لوري مې د فکر اس ښه وځغلاوه
بلا بلا سوچونه زړه ته راغلل

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا به د چا قصور د چا وجه وي؟
دا به د هغه بې وفا وجه وې؟
نه نه
عشق او دردونه خو تړلي سره
ژوند او غمونه خو تړلي سره
نو بیا به څه وجه وي
دا د یارانو بې غوري کېدای شي
دا د ملګرو بې رخې کېدای شي
نه نه رښتیا اوس پوه شومه زه
زما یوازې جرم دا دی
چې دنیا نه لرم غریب یمه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

خپل ځان ته له ناکامه ځورېدم او ژړېدم
په سره اور د فراق کې سوځېدم او ژړېدم

میني دې جنون ته رسولی وم جانانه
له ځان سره به هر وخت غږېدم او ژړېدم

تا چې به په تلو تلو کې په شا شا راکتلو
پرون په هغو لارو تېرېدم او ژړېدم

کله چې به تاته مخامخ شومه لالیه
له ډېري خوشحالۍ به خندېدم او ژړېدم

یاران چې به مي ولیدل په څنګ کې د اغیار
زه به له غیرته شرمېدم او ژړېدم

ما چېرته په عشق کې خندا ونه کړه ګوهره
هر وخت به له غمه کړېدم او ژړېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

درنه لوګی درنه قربان ،راپسې وبه ژاړې
جانانه وبه کړې ارمان ،راپسې وبه ژاړې

اوس مې په حال باندې خندا کړه هیڅ خبره نه ده
چې کله مړ شم په ایمان ،راپسې وبه ژاړې

تل به دې نه وي دغه سره لبان او تورې سترګې
چې کله تېر دې شي دوران ،راپسې وبه ژاړې

زه به د تلو اجازه درکړمه خو دومره واوره
څې به دې اوښکې په ګریوان ،راپسې وبه ژاړې

له ډېره کبره نه راګورې نه مې اخلې سلام
په خپلو کړو به شې پښېمان ،راپسې وبه ژاړې

دا د هجران اوږدې اوږدې شپې به په تا هم راځي
شمېرې به ستورې د اسمان ،راپسې وبه ژاړې

دومره خو پوه یم چې ګوهر به درته نه یادېږم
خو چې دروامې خلې دیوان ،راپسې وبه ژاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

دزندګۍ پېریان کېنستي په ما
که د ځوانۍ پېریان کېنستي په ما

په خوله چې داسې ګډې وډې وایم
ستا د خولګۍ پېریان کېنستي په ما

ټوله شپه خوب ترې نه کولای نه شم
د لېونۍ پېریان کېنستي په ما

ها غنم رنګ یار مې په منډه منډه
رارسوئ، پېریان کېنستي په ما

بې سره سر مې نه ټيټېږي بل ته
د بندګۍ پېریان کېنستي په ما

ما وې د خلکو دې څرمن وویسته
وې د "کرسۍ" پېریان کېنستي په ما

ګوهر چې هره خبر سپینه کوم
دشاعرۍ پېریان کېنستي په ما

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

دا چې له غصې نه تکه سره یې کلیوالې
بیا په څه خبر باندې خفه یې کلیوالې

مخ چې په پلو کې کله پټ کله ښکاره کړې
مه شرمېږه اوس خو لا وړه یې کلیوالې

ترمې ترمې اوښکې مې په مخ باندې رادرومې
خوب کې مې لیدلې چې ته مړه یې کلیوالې

زه خو ستا له سترګو په دې کلي کې اوسېږم
اور شي راته کلی چې ته نه یې کلیوالې

بیا دې جوړ همزولو سره کړی دی ورانی
راغلې له ګودر لمده خیشته یې کلیوالې!

اوښکې وچې کړه،بس ومې ویل نه ځم درنه
ته خو په رښتیا ډېره ساده یې کلیوالې

ګوره دې ګوهر ته یې له زړه نه ډېره ګرانه
خوشحال یې ساته هر وخت نازوه یې کلیوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

یاره تېر په هېر کړه راپخلا شه بیا
وګوره په ناز او په خندا شه بیا

بس ومي ویل بیا به داسي نه کیږی
لاس د میني راکړه بیا، زما شه بیا

یووار خو مي زړه ته درنژدې کړه ته
خیر دی جانانه بې وفا شه بیا

غېږه راکړه،غېږه راکړه مرم درنه
هله د دردونو مي دوا شه بیا

 څوبه دفراق په اور کي سوځمه
څېرته خو را پېښنه په دې خوا شه بیا

لږ خو ته هم خپل ګرېوان کي سوچ وکړه
زه به درته څو وایم چي دا شه بیا

دلته د حق ژبي ترل شوې دي
حق لیکه ګوهره او ګویا شه بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library


## یو ساعت

نن چې ښوونکې کله
دغه خبره وکړه

"په یو ساعت کې وي شپېته دقیقې "
نو ما په زړه کې یاره دا وویل

ښوونکی په دې نه دی خبر
چې ستا نه پرته په ما

دا یو ساعت لکه یو کال دا سې وي
دا یو ساعت لکه یو کال دا سې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

څه پرې وشوه خدايه زما دلبر خوداسې نه و
هر وخت په چيغو ژاړي دا ځيګر خوداسې نه و
نه شور د ماشومانو شته نه نجونه ځي ګودر ته
غمګين زموږ د کلي مازيګر خو داسې نه و
نسيم د صبح دم نشته شبنم په سرو ګلونو
ويجاړ زموږ د کلي سپين سحر خو داسې نه و
هر څوک دی وار خطا،خير د خپلو ځانو غواړي
زموږ د رنګينو ښار پېښور خو داسې نه و
نن هر چا دي زړې جامې اغوستې خفه ګرځي
نکريزي په لاس نه لري ،اختر خو داسې نه و
چې ګورم لاس تر زنې حيران ناست وي په سوچو کې
خوشحال به و،خندل به يې ګوهر خو داسې نه و

---

پېښور، ۰۹۱۱۱۹

يادونه: پېښور د لر اوبر پښتنو ګډ ټاټوبی دی او ډيرو افغانانو دلته خاپوړي کړې او روزل شوي ،داشعر ما هغه وخت ليکلی وه کوم وخت چې د پېښور حالات ډېر خراب وه او په هره هفته کي به يوه يا دوه چاودني کېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ته رانه لاړې بې وفا شوې په خندا خندا کې
زه لاس تر زنې شومه پاتې په ژړا ژړا کې

دتا راکړې د سبا وعده به کله راځې
کلونه ووتل جانانه دې سبا سبا کې

څوک به دې ووینې محبوبې ځوانې مرګه به شې
بیا چې رانه شې داسې پټه په بېګا بېګا کې

نور دې له سپین مخ او سرو شونډو نه توبه کومه
هسې نه کفر ته مې وباسې خطا خطا کې

پام، هسې نه مړ شم،هسې نه خون مې واخلې
راګوره مه داسې نخرو داسې ادا ادا کې

شپخه ړانده نه یو په ښو او بدو ښه پوهېږو
خلک دې وغولول ډېر پدې تقواتقوا کې

په بل وطن کې مسافر دی، له ډېر وخت نه ګوهر
چې هېر یې نه کړې یادوه یې په دعا دعا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

نه کيږي جانانه خامخا سترګي در اوړي
مه راځه په مخه چي زما سترګي در اوړي

مه توروه نوري دغه توري بلا سترګي دي
اخربه له نظره شې بلا سترګي در اوړي

هره يوه خبرچي درقيب دله په خوله کړې
خودبه ډک محفل کي په ژړا سترګي در اوړي

ګل اودشبنم غوندي رشته د موده ترمنځ ګلې
دا ځکه خوپه تلوتلو کي په شاسترګي در اوړي

مړه شې د سرو شونډو سره مه راوځه ښارته
اې کابلۍ پېغلې د هرچا سترګي در اوړي

جانانه په ګوګل کي مي زړګی شي په ټوپونو
کوم وخت چي دغماز دا بې حيا سترګي در اوړي

ته چي لويه لارکي له هغې نه خولګۍ غواړې
څه کوې ګوهره د دنيا سترګي دراوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

څه په بې وفا باندې اوښتی یم
خلکه په بلا باندې اوښتی یم

نه مې خپلوي،نه مې پرېږدې بل ته
داسې په یو چا باندې اوښتی یم

نن مې اندازه د خوښۍ نشته هیڅ
نن په ورک اشنا باندې اوښتی یم

وار کوه د کړس خندا دې ځار شمه
نن خو په ژړا باندې اوښتی یم

هره یوه ادا یې جوړوي غزل
د حسن په پاچا باندې اوښتی یم

نه ګوهره اوس یې پرېښودی نه شم
اوس په دې ګناه باندې اوښتی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

روغ او لېوني راته یو شوي دي
خپل دي که پردي،راته یو شوي دي

نیسي مي لمني ورتلی نه شمه
ګل سره اغزي راته یو شوي دي

بیا مي رقیبان د یار په خوله باندي
له کلي نه شړي،راته یو شوي دي

دخپل ژوند تېرولو ته مي نه پرېږدي
اوس خپل ګاونډي راته یو شوي دي

وطن په غریو نیولي انداز دا ووې!
خدایه،خپل بچي راته یو شوي دي

ګوهره بیا مي دا خلک په مینه کي
دار ته خېژوي،راته یو شوي دي

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

په زړګي غمونه نه وای او جانان وای
چې د ژمي اوږده شپه وای او جانان وای

د کوم لوی سیند کناره وای او جانان وای
په اسمان شنه زرغونه وای او جانان وای

چې تر مرګه پوري مست وای او نشه وای
دا دنیا یوه میکده وای او جانان وای

د ځواني رباب مو غېږ کې وای نیولی
د ژوندون خوږه نغمه وای او جانان وای

کاشکي یو ځل داسي شوي وای ګوهره
د ژوندون شېبه شېبه وای او جانان وای

(c) ketabton.com: The Digital Library


# نظم

ما درته وېل دې ښارته مه راځه مه بیا
ما درته وېل دې ښارته مه راځه مه بیا
دلته اوس خلک محبت نه پېژني
هرخوا نفرت دی، څوک الفت نه پېژني
هیڅوک دشونډو عبادت نه پېژني
فکرونه مړه دي څوک غیرت نه پېژني
ما درته ویل دې ښار ته مه راځه بیا
دلته اوس میني په دولت خرڅیږی
دلته حسیني په دولت خرڅیږي
اوس ددې ځای نه سم ځنګل جوړ شوی
دانسان ویني په دولت خرڅیږي
مادرته ویل دې ښار ته مه راځه بیا
دلته هر خوا کونډې یتیمان ژاړي
په چیغو سر دي ببر سري ماشومان ژاړي
دلته اوس هر خوا ځان ځاني خوره ده
هر څوک په خپل ویر په خپل ځان ژاړي
ما درته ویل دې ښار ته مه راځه بیا
اوس هغه ښکلي خلک نشته دلته
هغه سپېڅلي خلک نشته دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه چې ته به نازېدلې پرې باندې
اوس هغه تللي خلک نشته دلته
زموږه چم زموږ ګودر چا په ګولو ویشتلی
زموږ جومات زموږ ګودر چا په ګولو ویشتلی
زموږ د کلي په حجرو کې د باروتو بوی دی
زموږ ماښام زموږ سحر چا په ګولو ویشتلی
مادرته ویل دې ښار ته مه راځه بیا
مادرته ویل مسافرۍ کې ښه یې
وطن نه لرې پردیسۍ کې ښه یې
څه چې در رسي د خدای شکر کوه
بس په دې خپله غریبۍ کې ښه یې
زما دې نه منل بیا راغلې
اوس در په در خاورې په سر ګرځه
په خپل وطن کې مسافر ګرځه
مادرته ویل دې ښار ته مه راځه بیا

ګوهر ، پېښور ۳۱۲۰۱۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

څه په مينه او ادا، پټ پټ وخاندي
راته وګوري اشنا، پټ پټ وخاندي

ها شېبه په محبت کي څومره خوند کړي
په ژړا شي روسته بيا، پټ پټ وخاندي

هغه تېري ورځي شپې چي ورپه زړه کړم
سرکړي ښکته بې وفا، پټ پټ وخاندي

هله پوی شم چي مي حال څومره بدتر دی
چي تېرېږي څوک په ما، پټ پټ وخاندي

زما اوښکي هيڅ اثر په جانان نه کړي
ما چي ويني په ژړا، پټ پټ وخاندي

په بيګا چي ترښه خوله واخلم ګوهره
راته وګوري سبا، پټ پټ وخاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ياره زما په حافظه کې ساه پيدا شي
چې راياد شې په سينه کې ساه پيدا شي

ته چې کله په ايينه کې ځان ته ګورې
څومره خوند کړي، په ايينه کې ساه پيدا شي

ستا سرې شونډې، اننګي په کې ښکاريږي
د شرابو په پياله کې ساه پيدا شي

خدايه ته خو يو خوشال بيا راپيدا کړې
چې په ټوله زمانه کې ساه پيدا شي

چې په مړو سترګو وروګورې جانانه
راژوندی شي،په مرده کې ساه پيدا شي

ستا په ياد کې چې ګوهر کله شعر ليکي
د غزل هر مصره کې ساه پيدا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

له خوشالۍ او له خندا نه شوم محرومه،اشنا
چې بند شوم ستا د دغه تور اوربل په لومه اشنا

د وصال ورځې دې خوږې دې لکه شات و شکر
د هجر ورځې دې ترخې دې تر زقومه اشنا

زړه مې په تا پسې رنځور دی او درمان مې ته يې
چې درنه مړ نه شه ،زر کوه رادرومه اشنا

په نورو لارو باندې نه ځمه ،ګمراه به شمه
يو ستا د کور لاره ده ماته رامالومه اشنا

د يوسفي حسن خاونده بس دی راشه کنه
کړي انتظار به دې ګوهر غريب تر کومه اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

یار ! په خپل ځان نه پوهېږم دغه څه راباندي وشول
دا په چا پسې ژړېږم، دغه څه راباندي وشول

هر یو چل مې په زړه وکړ، چې تا هېر کړمه جانانه
نه صبرېږم،نه صبرېږم، دغه څه راباندې وشول

هغه یو کس بس یو ځل، بې وفایي راسره کړې
اوس له مینې نه یرېږم، دغه څه راباندې وشول

لیونتوب نه دی نو څه دي، چې کوڅه کې دې روان یم
له خپل ځان سره غږېږم، دغه څه راباندې وشول

نن مې ځان ته ژړا راغله،په خپل ځان مې زړګی وسو
د نارنج غوندې زېړېږم،دغه څه راباندې وشول

هره شپه دې په فراق کې ،لکه شمع تر سهاره
ویلي کېږم او سوځېږم، دغه څه راباندې وشول

هله زر شه پسې لاړ شه، جانان راوله ګوهره
په ایمان لېونی کېږم، دغه څه راباندې وشول

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

تا په خدای باندې سپارمه، درنه ځمه
بس یو وار دې ښکلومه، درنه ځمه

د ژوندون او د ځواني غوندې به ځغلم
نور صنمه،تا پرېږدمه، درنه ځمه

که هر څومره منتونه راته وکړې
درنه ځمه، درنه ځمه، درنه ځمه

دا په ما باندې دې کومه بلا کړې
ټوله ورځ درته راځمه، درنه ځمه

په والله چې زړه مې چوي، زړه مې چوي
ستا له غمه، له ستمه، درنه ځمه

ته به راشې مابه بیرته درپخلا کړې
په دې هیله په دې تمه، درنه ځمه

چې ته نه یې نو په دې دنیا به څه کړم
بس ګوهره درنه مرمه، درنه ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

نه مې شي ګذران لېونی کېږم
یاره په ایمان لېونی کېږم

ډېر راته یاد شوی نن
راولۍ جانان لېونی کېږم

زړه مې په لمبو سوزي
واړوه چشمان لېونی کېږم

ستا په لټون ګرځم تل
څیري مې ګرېوان لېونی کېږم

تا چه سترګې توري کړې
اوس مې ده ګمان لېونی کېږم

تا پسې رنځوریمه
ته مې شه درمان لېونی کېږم

زه ګوهر، سپیرې دنیا ته
ډېر یمه حیران لېونی کېږم

(د قیصر اپرېدي په طرحه)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ماښام د سیند په غاړه او سحر د سیند په غاړه
زه ګرځمه یوازې اوس اکثر د سیند په غاړه

چې کله مې په زړه ستا د غمونو چپې راشي
راووځمه او کېنمه بهر د سیند په غاړه

جانانه ستا تصویر زما په زړه کې داسې ښکاري
ته راشه او لږ وګوره دا لمر د سیند په غاړه

چپې چپې چپې چې د ساحل په خوا رادرومي
په غېږ کې مې ورتېینګ کړي زر دلبر د سیند په غاړه

ته ورشه د څپو غېږ ته ځان واچوه ګوهره
پیدا به نه کړې هیڅکله ګوهر د سیند په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

په زړګې مې ستا غمونه لکه غرونه
وړمه دا درانه بارونه لکه غرونه

را تاو شوې دې زما او د جانان نه
رواجونه، دیوالونه لکه غرونه

زه د عشق په سمندر یم ورګډ شوی
دې په مخ کې مې موجونه لکه غرونه

زما خیالونه، ارمانونه، امیدونه
لکه غرونه، لکه غرونه، لکه غرونه

د دنیا هر یو ستم ته یې ملا ورکړه
پښتانه لري کلک زړونه لکه غرونه

د حکمت او محبت ګوهر په کې دي
اې ګوهره ستا شعرونه لکه غرونه

د یوه نامعلوم شاعر د غزل په لیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

څنګه چې انسان په کایناتو کې راګېر دی
داسې مې دا زړه ستا په خیالاتو کې راګېر دی

مرګ غواړي له خدایه او له ژونده ستړی شوی
دلته هر سړی داسې حالاتو کې راګېر دی

اغیار مې اوس په خپله چالاکۍ کې رانښتی
مچ دی خدای وهلی او په شاتو کې راګېر دی

لا هم د خپل ځان پېژندلو ته وزګار نه دی
دومره دا انسان په مجهولاتو کې راګېردی

ساده دی،وفادار دی او په مینه ښه پوهېږي
یار بس د ګوهر دغو صفاتو کې راګېر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

پـه ځـان مـې حـرام کـړې دي خوبونـه سـتا پـه سـر
زه وړمـــه اوس د خلکـــو منتونـــه ســـتا پـــه ســـر

پـام، چـې مـې پـه نیمـه لار کـې پـرې نـږدې جانانـه
مـا ینبـي لـه رقیـب سـره شـرطونه سـتا پـه سـر

زمـا د قتلولـو پـه نیـت هـم کـه خـوا لـه راشـې
شـیندم بـه زه ګیـډۍ ګیـډۍ ګلونـه سـتا پـه سـر

سـتا پـه یارانـه کـې شـوم لـه خپلـو، پردو لـري
راکـړي راتـه هـر چـا جوابونـه سـتا پـه سـر

تـه خـو یـې والله کـه پـه کیسـه کـې یـې جانانـه
ګـوهر بیـا لیـونی دی کـړي جنګونـه سـتا پـه سـر

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نظم

(دا نظم يو چاته ډالۍ و )

تاته به ياد وي كنه
خو ماته اوس هم ياد دي
اوس هم چې شپه شي انسانان ويده شي
په خپلو ځالو كې مارغان ويده شي
د مور په غېږ كې ماشومان ويده شي
خو زه لكه خزان وهلې څانګه
چه د سپيره باد سره والوزي
لكه يو ستړى مسافر چې كور نه لري
لكه يتيم چه پلار نه لري مور نه لري
دا سې يوازې او تنها پاتې شم
سترګې مې ډكې شي د اوښكو
په ژړا پاتې شم
او را يادېږي هغه تېر وختونه
هغه
ستا خوږې خبرې
ها د زړكي په شان
پستې پستې خبرې
هغه چه شپه به شوله
او زما ماشوم هيلو به

(c) ketabton.com: The Digital Library


د تصور دنیا کې
لکه واړه ماشومان

د تا په وړاندې به مې
زخمي ځیګر کېښود
او تا به په مینه مینه
زما دا ماشومه اروا
په ناز و خندوله
بیا به دې وژړوله
تا ته به یاد وي کنه
خو ما ته اوس هم یاد دي
یوه شپه تا وویل
ډېر دې په مینه او ادا وویل
که زه چیرې په لوی سفر لاړه شم
تا د ماشوم ژوندون نه
لکه "وړانګه" د لمر لاړه شم
نو
تا ته به یادېږم کنه؟
ما درته وویل نه
زه به تا نه یادوم
ته لږ حیرانه شولې
بیا پریشانه شولې
او په غټو تورو سترګو دې
په مینه مینه ما ته وکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما درته کټ کټ وخندل
ته ځومره ساده کوچۍ یې
زما د زړه دنیا یې
څومره ښایسته کوچۍ یې
زه به تا نه یادوم ځکه
د یادېدو د پاره
خو هېرېدل شرط وي
خو زه تا هېرولی نه شم
هو دا منم چه هېروم به دې له وخته سره
خو دا مې وعده ده چه به تر مرګه پورې تا یادوم
تاته به یاد وي کنه
خو ماته اوس هم یاد دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

شمارلي يې په تا د اسمان ستوري او که نه !
زړه ووايه چې ښکلي دي سر زوري او که نه !

په ما خو ساډوبي راځي چې يار ته مخامخ شم
ستا څه حال وي ملګريه زړه دي ښوري او که نه ؟

بيا به د خاطر غوندې جانان په لاس کې راشي
ته صبر چې په شا باندې راګوري او که نه

که دلته حالات داسي وه يوه ورځ به ته ګورې
چې کاڼي په وطن باندې را اوري او که نه

زه چې له کلونو کوم سړي ته غزل ليکم
ګوهره خداى خبر هغه يې ګوري او که نه !؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

حسن به لري خو وفا نه لري
ښکلو کې دا کار دی چې دا نه لري

مه یربړه ټینګه غبړه راکړه ،یار
مینه ناروا او روا نه لري

دا د هجر شپې څومره اوږدې شولې
ژوند مې جوړ د وصل سبا نه لري

زه دې د عالم د تماشې کړمه
تا دې خدای ګلابه رسوا نه لری

هر څو که دې بد راسره کړي دي
خیر دی کنه راشه ،پروا نه لري

دا ګوهر که ټوله دنیا ولري
هیڅ نه دی جانانه چې تا نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

په دار ځړيږي هره ورځ يو سر په ښاريه کې
غوغا وي هرې خوا ته جوړ و ي شر په ښاريه کې

کمزوري په کې نه اوسي ،کمزوري ترې نه تښتي
اوسيږي اوس يوازي زورور په ښاريه کې

خدای خبر د کوم غم دروند څادر يې در اغوستی
فرق نه کيږي د غم او د اختر په ښاريه کې

دا زړه مې په دې دومره لوی جهان کې په تنګ شوی
چې نه مې شته عالمه خپل دلبر په ښاريه کې

تر اوسه يې د خپل طبيعت ملګری پيدا نه کړ
ګوهر غريب ګرځيږي در په در په ښاريه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ستا سرې شونډې اننګي غواړي
ګوهر مست دی او مستي غواړي

هر څوک ګله ستا ياري غواړي
هر څوک دغه خوشالي غواړي

زړه او عقل مې په جنګ دي اوس
اوس دا دواړه ازادي غواړي

شاعري کله اسانه ده ؟!
دا خو ويني د زړګي غواړي

## يو بيت

پريږدئ چي مړ شم د جنت په دروازه کي مړ شم
خدای خو دي وکړي چي د خپل يار په کوڅه کي مړ شم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

دبندي مرغه په څیر تیروم بند،ژوند
بې له تا جانانه نه راکوي خوند،ژوند
زما ژوند خو بس یو څو ساعته ژوند و
زما ژوند خو وه هغه ستا په مړوند، ژوند
دا خو ستا میني رسوا کړم سپوږمۍ مخیه
کنه ما لره د لمر غوندي څرګند ژوند
زما زړه ستا د ښو په غشو غوڅ دی
زما ژوند لکه ستا زلفې فکر مند،ژوند
ته چي دغسي خوږې غزلي لیکې
خدای دي مړ مه کړه ګوهره یاره ژوند،ژوند

## دوه بیتونه

د ستا په سپین مړوند باندي د خوب په امیدونو
رسېږمه نور زه تر لېونتوب په امیدونو
زما همځولي خپلي تماشې کړي او مزې کړي
په ما غریب تېرېږي زلمیتوب په امیدونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

اې مه کوه زموږ په ارمانونو باندې لوبې
جانانه ناروا داسې په زړونو باندې لوبې

دا ستا په ګلابي مخ باندې یاره خولې راغلې
که پرخه د سبا کړي په ګلونو باندې لوبې

د خپل ژوند پروا نه لري چې مینه کې صادق وي
کوي لکه پتنګ په سرو اورونو باندې لوبې

یو څو کسان له ژوند او محبته منکر شوي
کوي د انسانانو په مرګونو باندې لوبې

ګوهره دروغجنه ته بې غمه مین نه یې
چې مینه کړي هغه کړي په سرونو باندې لوبې

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ته پرېږده چې بې غمه شم ویده لکه ماشوم
جانانه لږ د ستا په زنګانه لکه ماشوم

تا چې د فراق درنې څپېړې په مخ راکړې
ژړېږي په سلګو سلګو مې زړه لکه ماشوم

ستا د خوږو سرو شونډو خوږو پسې ژړېږم
جانانه ستا یارۍ کې شومه زه لکه ماشوم

هر کله چې تاته مخامخ شمه لالیه
شرمیږي او غورځیږي مې دا زړه لکه ماشوم

راشه راپخلا شه او بیا ټینګه غېږه راکړه
خفه یې داسې هر وختې په څه لکه ماشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


بله ورځ به خیر دی په رضا باندي خوله درکړم
ګوهره یاره ضد مه کوه ته لکه ماشوم

## څلوریزه

چې کله شور شي ستا د تورو زلفو
په ما بل اور شي ستا د تورو زلفو
په خپلو زلفو مې مظبوط وتړه
که زړه مې تور شې ستا د تورو زلفو

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**